PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوې دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لارښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي ځرگند دلایل دي. نو ځوک چې له تاسې ځخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او ځوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمېر دې له نورو ورځو ځخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از سهل بن سعد رضی الله عنه روایت است که: پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: هر آئینه در بهشت دری است که به آن ریان گفته می شود و روزه داران در روز قیامت از آن داخل می گردند که هیچکس غیر از ایشان از آن داخل نمی گردد. گفته می شود: روزه داران کجایند؛ پس ایستاده می شوند و از آن کسی غیر از ایشان داخل نمی گردد و چون داخل شوند بسته می شود و هیچکس از آن وارد نمی شود. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۱۸ مه گڼه، پرله پسې ۲۱۷ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د زمری ۲ مه د۱۴۳۴ هـ ق د رمضان المبارک ۱۵ مه د۲۰۱۳ م د جولای ۲۴ مه

امریکا سفیر:

د افغان سولې او پخلاینې بهیر کې راتلونکی پرمختگ نامعلوم دی

په قطر کې د طالبانو د دفتر د پرانیستلو موخه د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د خبرو لپاره د یو آدرس پیدا کول وو، خوامریکا د دغه دفتر د پرانیستلو پر بنې اندېښمنه ده

د سولې او پخلاینې د خبرو په بهیر کې طالبان ځرگند دریځ او ژمنتیا نه لري

کابل، رسنۍ:
جیمز کننگهم وویل، امریکا به د افغانستان د راتلونکي په اړه له طالبانو سره خبرې و نه کړي بلکې دا کار باید پخپله افغان حکومت او طالبان وکړي.
په کابل کې د امریکا سفیر کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل، د افغانستان د سولې او پخلاینې بهیر کې راتلونکی پرمختگ مالوم نه دی.
دغه غونډه د افغانستان د ستراتیژیکو مطالعاتو د انسټیټیوټ لخوا د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د خبرو اترو لړۍ د یوې برخې په توگه جوړه شوې وه.
پاتې ۳ مخ

لوی څارنوالی سید انور سادات را ممنوع الخروج اعلام کرد

شخصی که بر ضد منافع ملی حرف بزند و منافع ملی را به خطر بیندازد، مورد پیگرد قانونی قرار می گیرد. (سخنگوی لوی څارنوالی)

کابل، رسانه ها:
لوی څارنوالی، سید انور سادات نمایندهٔ مردم سرپل در ولسی جرگه را ممنوع الخروج اعلام کرده و او را تحت تعقیب عدلی قرار می دهد.
سید انور سادات نمایندهٔ مردم سرپل در ولسی جرگه، بر فیصله ولسی جرگه در مورد تصویب قانون ثبت احوال و نفوس انتقاد نموده، چهارشنبه گذشته خطاب به میرویس یاسینی معاون اول ولسی جرگه گفته بود: "... ترکان افغانستان در تذکرهٔ خود به ذکر هویت نیاز ندارند، شما شاهد هستید که روی این سرزمین هزار سال حکومت کرده اند... مهربانی کنید شما بدون انتحار و انفجار چه کرده اید؟ افغانستان را با فسادهای اخلاقی و اداری بدنام ساختید؛ من میخواهم که میرویس یاسینی از این مجمع معذرت بخواهد."
این اظهارات سادات، مورد انتقاد شدید برخی مردم و...
بقیه در صفحه ۴

مروری بر کارکرد چهارنیم ماههٔ شورای ملی افغانستان!

کابل، رسانه ها:
اعضای شورای ملی افغانستان دیروز (سه شنبه) برای ۴۵ روز به رخصتی تابستانی رفتند.
با آغاز رخصتی تابستانی شورای ملی، ولسی جرگه یکی از دو مجلس این شورا می گوید که تا حد توان گام های را در بخش های قانون گذاری، نظارت و نمایندگی از مردم برداشته است.
معاون منشی این جرگه می گوید که طرح های قوانین انتخابات، تشکیل، وظایف و صلاحیت های کمیسیون مستقل انتخابات، طرح های قوانین ثبت احوال نفوس، قضایای دولت، اجراآت جزایی و طرح قانون معاشات مقامات دولتی از طرح های قوانین اند که ظرف چهار نیم ماه گذشته از سوی ولسی جرگه به تصویب رسیده است.
عرفان الله عرفان به روز سه شنبه به رادیو آزادی گفت که آنها در این جریان ۶۰نشست عمومی به شمول جلسات
بقیه در صفحه ۴

لوگریان د طالبانو او دولت نه سر ټکوي

کابل، رسنۍ:
د لوگر اوسېدونکي له ناامنیو شکایت کوي او وایي چې؛ ورځ تر بلې وضع په خرابېدو ده.
دوی ازادۍ راډیو ته وویل چې؛ وسله والو طالبانو او امنیتي ځواکونو پرعامو خلکو فشار زیات کړی او هغوی یې سخت په تنگ کړي دي.
د لوگر ولایتي شورا سره له دې چې د خلکو شکایتونه پرځای بولي وایي چې؛ د لوگر امنیتي ستونزې پر کابل هم منفي اغېزې کوي.
پاتې ۴ مخ

رسنۍ:

د ډرون الوتکو ۹۸ سلنه قربانیان ملکي خلک دي

کارپوهان وایي، چې د دې بېدونو بوه لویه حقوقي ستونزه دا ده، چې ترکومې دېو مجرم محاکمه نه وي ثوسره شوې، تر هغې یې د وژلو پرېکړه ناسمه ده او په دې توگه د ترهگرۍ په بلمه دغه بریدونه جواز نلري.

جرمني، رسنۍ:
د جرمني تلویزیون لومړي کانال (اې ار ډي)، په امریکا کې د یوې څېړاکي موسسې د څېړنو مرکز د یوه تن جرمني کارپوه له قوله ویلي، چې د امریکایي بې پیلوټه الوتکو زیاتره قربانیان ملکي خلک دي. ریپوټ زیاتوي، چې یوازې ۲ سلنه هغه کسان وژل شوي، چې ترهگرو سره تړاو لري او پاتې ۹۸ سلنه ملکي خلک د دغه بې رحمانه بریدونو قربانیان دي.
پاتې ۳ مخ

افغان سیاسیون سوله په گدایی غواړي

*** د پاکستان غوښتنې په عمل کې افغانستان د سیاسی او اقتصادی استقلال نه محروموي. پاکستان اوس کوښښ کوي چې شمالي ټلوالې ته د طالبانو سره د گډ حکومت د جوړولو په وعدو افغان حکومت نور هم کمزوری کړي**

(جمال رحمان) - دریم مخ

دیمپسی:

سرنوشت توافقنامه امنیتی باید تا ماه اکتوبر روشن شود

کابل، رسانه ها:
مارتین دیمپسی ماه اکتوبر امسال را ضرب الاجل مناسب برای روشن شدن سرنوشت توافقنامه امنیتی میان کابل و واشنگتن خواند.
این توافقنامه روشن خواهد ساخت که آیا سربازان امریکایی فراتر از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی خواهند ماند یا خیر.
دیمپسی پس از دیدار با رییس جمهور حامد کرزی، در یک کنفرانس خبری در کابل گفت، می خواهد نهایتاً در ماه اکتوبر، آینده برایش واضح شود:
"از نگاه نظامی می خواهم آینده را به اساس
بقیه در صفحه ۳

پتنگ:

د مافیایي کړیو د دسیسو ښکار شوم

کابل، رسنۍ:
د ولسي جرگې له خوا د استیضاح په پایله کې د کورنیو چارو د وزیر مجتبی پتنگ له بې واکه کولو څو ساعتونه وروسته ښاغلي پتنگ د ولسي جرگې غړي په ناقانونه چارو تورن کړل او په وینا یې د هغوی ددغه راز کړنو یو اوږد نوملړ یې د خبریالانو په مخ کې کېښود:
"۱۵۳۳ عسکر چې موږ یې په یوهٔ ولایت کې نه لرو د پارلمان له وکیل سره شتون لري، د ملي شورا له وکیلانو سره ۴۶ رینجر گاډي دي، د ولسي جرگې د کړنلارې له مخه یو استازی باید له ۲ تر څلورو میلو پورې وسله له ځان سره ولېږدوي، دوی د کورنیو چارو وزارت له لارې ۲۵۴ میله ناقانونه وسله اخستې ده»...
پاتې ۴ مخ

ولسی جرگه:

رییس جمهور به فیصله این جرگه احترام بگذارد

کابل، رسانه ها:
ولسی جرگه افغانستان از رییس جمهور کرزی تقاضا می کند تا با رعایت از قانون اساسی فیصله این جرگه در خصوص سلب صلاحیت وزیر داخله کشور را عملی کند.
عرفان الله عرفان منشی ولسی جرگه افغانستان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت که فیصله اعضای این جرگه باید بدون تعدیل و محول شدن به یک نهاد دیگر مورد اجرا قرار گیرد.
آقای عرفان از رییس جمهور کرزی خواست تا هرچه زودتر شخص جدیدی را به حیث کاندید پست وزیر داخله به ولسی جرگه معرفی بکند:
« دیروز رییس جمهور کرزی این مساله را به ستره محکمه واگذار کرد و وزیر داخله را به حیث سرپرست گماشتند، این کار در مخالفت با قانون اساسی افغانستان و تصمیم جمعی نماینده گان مردم افغانستان است، ولسی جرگه افغانستان جداً تقاضا می کند از رییس جمهور افغانستان تا به تصمیم مردم و نماینده گان ملت افغانستان احترام بگذارد.»
بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

په دې حمام کې ټول بربنډ دي!

بل پرون د ولسي جرګې غړو د کورنیو چارو وزیر مجتبی پټنګ د بې کفایتیو په تور د رایو په اکثریت له خپلې دندې ګوښه کړ، خو افغان ولسمشر سم دلاسه نوموړی د همدې ادارې د سرپرست په توګه وټاکه. مجتبی پټنګ له بې باوره کېدو دوه ساعته وروسته د رسنیو په وړاندې وویل چې د ولسي جرګې ګڼ غړي په اداري فساد کې ښکیل دي، په ده باندې فشارونه راوړي چې یو شمېر کسانو ته غیر قانوني رتبې ورکړي.

نوموړي د جرګې غړي د نشه يي توکو په قاچاق، له واکه په ناوړه استفاده او بهرنیانو ته په جاسوسي تورن کړل، هغه وویل داسې یوه بېلګه لري چې له پارلمانه تر نایجیریا د نشه يي توکو قاچاق کېږي، د پولیسو له ۶۴ رینجرو څخه وکیلان استفاده کوي، پټنګ ۷۲ وکیلان تورن کړل چې د نشه يي توکو په قاچاق کې لاس لري او دېرى يې د پردیو هېوادو استخباراتو ته جاسوسي کوي.

دا چې د مجتبی پټنګ او وکیلانو تورونه څومره پرځای او څومره بې ځای دي په دې باندې په سر نه خوږوو، هغوی پوه شه او خدای يې، خو که موږ پر واقعیت د پوهېدو په خاطر د افغانستان پر حکومتي ادارو او کړنو یو سرسري نظر واچوو نو په دې فاسدو ادارو کې د هر څه کېدو امکان نشي ردیدلي، دلته د زیاترو واکمنانو ځولی له فساد نه ډکه ده او د چا چې څومره وسه رسېدلې صرفه يې نه ده کړې.

په داسې یو هېواد کې چې وزیران، والیان، معینان، ولسوالان، رئیسان، قوماندانان او نور کارمندان د زرګونو ډالرو د رشوت یا د قومي اثر رسوخ له لارې په دندو ګمارل کېږي هلته د فساد، درغلۍ، رشوت او نورو جرائمو ترسره کېدل څه د حیرانتیا خبره نه ده.

موږ ټول په دې خبره هم ګواه یو چې د ګوتو په شمار له څو وکیلانو پر ته نورو ټولو وکیلانو د لکونو ډالرو په تاوان د ولسي جرګې تالار ته ځانونه رسولي دي، که دوی په پارلمان کې له خپلو مصرف شویو ډالرو په عوض څو برابره زیاتې پیسې ترلاسه نه کړي نو بل څه وکړي؟ د ملا نصرالدین شاګردان خو نه دي چې د ګټې پرځای تاوان وکړي، هغوی له همغې ورځې نه د حرام مال د ترلاسه کولو پوخ عزم کړې وي له کومې ورځې نه چې د وکالت لپاره ځان کاندیدوي او ګټلو لپاره يې پر خلکو د رشوت باران کوي.

یواځې وکیلان نه، بلکې د جمهوري ریاست کاندیدان هم د خپلې کامیابۍ لپاره په ملیونو ډالرو رشوت ورکوي، ملت دې پخپله فکر وکړي چې که ددوی هدف د بیت المال لوټول، غبن او غلا نه وي نو بیا د دومره غټو مسؤولیتونو د منلو لپاره ولې په ملیونو ډالره رشوت ورکوي؟! آیا یو پاک، مخلص، ایماندار او دیانتدار شخص به د امانت دروند بار د لکونو ډالرو په رشوت ورکولو پخپلو اوږو واخلي؟!!

که له واقعیت نه سترګې پټې نه کړو او هر څه صفا صفا ووایو نو لدې پرته، بله چاره نه لرو چې ووایو، د پارلمان اکثر وکیلان، وزیران او په مجموعه کې ټول هغه چارواکي چې د رشوت له لارې اقتدار ته رسیدلې دي ټول د فساد په ډنډ کې غرق دي، پخپلو کې د یو بل د څملولو او نصبولو جنګ صرف او صرف د خپلو ګټو د تحقق لپاره دی نه د ملت د خیر ښېګړې لپاره، ددوی ګټې په دې کې تأمین دي چې د بیت المال په چورولو او نورو حرامو کارونو کې د یو بل خیال وساتي او په هر څه کې یو بل ته برخه ورکړي، له دوی نه چې هر یو له دغه اصل نه لږ غوندې هم انحراف وکړي، انجام به يې خطرناک وي، یا يې له دندې ګوښه کوي او یا يې هم د مرګ په درنه څپېره ګواښي.

د افسوس خبره داده چې د افغانستان فعلي سرنوشت له لومړۍ ورځې نه داسې قصابانو او ملي خاینانو په لاس کې ورکول شوې چې هغوی ټول عمر د خلکو وینې زوې څکلي او له همدې لارې د ملیاردو ډالرو مالکان ګرځېدلي دي، دغه حرام دولت هغوی دومره ځواکمن کړي چې د هر ایماندار شخص سټ په څو دقیقو کې ماتوي او له منځه يې وړي مګر بیچاره ملت په ډېر حسرت او په چوپه خوله دهغوی د ظلمونو ننداره کوي، که افغانان غواړي چې لدې وروسته نور ددغه ظالم ټیم له تسلط نه ځانونه خلاص کړي نو یواځې یوه لاره پرمخ لري او هغه دا چې په راتلونکو انتخاباتو کې ددوی هېڅ ډول فشار پرځان ونه مني او دهغوی د رشوت حرامو پیسو ته د لاس نیولو پرځای خپله رای دیندار، محب وطن، پاک او متقي اشخاصو ته ورکړي، تر څو راتلونکی حکومت له دا ډول فاسدو ټولګیو څخه پاک او د هېواد د بیت المال د چور او تالا ترغه کولو دغه ناوړه لوبه پای ته ورسېږي.

نوشته: احمد منصور

علتهای کودتا در مصر و نقش کشورهای منطقه

۱ ـ عوامل داخلی

با نگاهی به روند شکل گیری انقلاب مردمی علیه نظام مبارک در می‌یابیم که در واقع انقلابی به معنی واقعی انقلاب در مصر صورت نگرفت. به این معنی که از نظام مبارک تنها خانواده ی وی و مجموعه‌ی وزرا حذف شدند و بقیه در جای خود باقی ماندند. حکومت مبارک، از خاندانش و هیأت دولت، نظام قضایی، ارتش، رسانه‌ها و نیروی امنیتی تشکیل شده بود. دیکتاتوری او تا مخ استخوان در میان همه‌ی اینها نفوذ کرده بود. با شکل گرفتن انقلاب مردمی در مصر که فشارهای مردمی برای سرنگونی دیکتاتوری مبارک شدت گرفت، دیگر طیفهای قدرت مبارک را فدای بقای خود کرده و قربانی نمودند. در ابتدا ارتش تحت نام مصلحت و پر کردن خلأ سیاسی کشور قد علم کرد و اعلان نمود تا برقراری مؤسسات قانونی، امور کشور را به دست خواهد گرفت که خود شبیه به یک کودتا علیه انقلاب بود. اما حضور آگاهانه‌ی مردم در صحنه، نقشه‌های آن‌ها را خنثی نمود. ولی کم‌کم طیفهای دیگر قدرت پا پیش گذاشته و شروع به کارشکنی نمودند.

زمان انتخابات و صندوق رأی که فرا رسید، نظام قضایی دست به کارشکنی زد و یک نفر از عاملان کشتار انقلاب را محاکمه نکرد و یک محاکمه‌ی صوری از مبارک و خاندان او را اجرا نمود که هنوز ادامه دارد.

ارتش مشکلات فراوانی را برای پارلمان ایجاد کرد، حتی پیشنهاد انحلال اخوان و حزب «آزادی و عدالت» را مطرح نمود. آن‌ها در مرحله‌ی انتخابات پارلمان که شکست خوردند. باز برگ برنده‌ی دیگری در دست داشتند و آن ریاست جمهوری بود.

اخوان ابتدا اعلام کرد که در انتخابات ریاست جمهوری کاندید ندارد، ولی زمانی که برایش مشخص شد که انحلال مجلس به سادگی صورت می‌گیرد و اگر ریاست جمهوری با آن‌همه اختیارات کلان که در قانون قبلی برایش در نظر گرفته شده بود به دست بازماندگان نظام مبارک برسد، انقلاب دیگر معنی نخواهد داشت. در این مرحله بود که کاندیدای خود را برای ریاست جمهوری اعلام کرد.

به محض اعلام این خبر، تمام رسانه‌های مخالف شروع به تبلیغات گسترده‌ای علیه اخوان کرده و اذهان عمومی مردم مصر را علیه اخوان بسیج نمودند. زیرا مهم‌ترین پایه و پشتیبان قانونی قدرت را از دست می‌دادند و آن ریاست جمهوری بود. در این مرحله، کاندید اول اخوان خیرت الشاطر را رد صلاحیت نمودند، زیرا پیروزی او در انتخابات در نظر آنان قطعی بود. و در واقع نیز، هیچ حزب و گروهی بجز اخوان یارای رقابت با آنان را نداشت. نتیجه‌ی انتخابات را به تأخیر افتاد و اگر حضور میلیونی مردم در میدان تحریر نبود، احمد شفیق پیروز انتخابات اعلام می‌شد. بعد از پیروزی مرسی در انتخابات و ناکامی بازماندگان رژیم مبارک از رقابت دموکراتیک طوفان فتنه آغاز شد. از یک طرف نیروی امنیت، امنیت اماکن را اهمال می‌کرد و حوادث استادیوم پورسعید به وقوع پیوست که منجر به کشته شدن نردیک به صد تن شد و از طرف دیگر نزاع میان مسلمانان و مسیحی‌ها قربانی داد و ده‌ها واقعه‌ی دیگر که حاصل کارشکنی مأموران امنیتی و دخالت آن‌ها بود.

از جهت دیگر ارتش و اطلاعات آن در قضیه‌ی سینا و قتل عام سربازان کوتاهی کرده و اقدام به کودتا نمودند. که بعد از کشف آن منجر به بازنشسته کردن طنطاوی وزیر دفاع و چند تن دیگر گردید. البته مرسی بسیاری از این ها را می‌دانست ولی حجم گسترده‌ی نفوذ آنان مانع تغییرات می‌شد و حتی هنگامی که دادستان کل را تغییر داد سیستم قضایی عملاً دست از کار کشید و در رسانه ها کلمه‌ی «اخونه» را بر سر زبان ها گذاشتند (به معنی اخوانی کردن سیستم) که از هر تغییری ممانعت می کردند. و پس از تصویب قانون و مشروعیت آن، سکولارها مسیحی‌ها را با خود همراه نموده و از حکومت اسلامی هراسان نمودند و در ادارات دولتی نیز پا به پای آن‌ها کارشکنیهای فراوانی همچون قطع برق و... را برای ایجاد نارضایتی عموم انجام دادند. البته نباید فراموش کنیم که مرسی هم در این زمینه خطاهایی داشت ولی نه در حدی که کودتا علیه او را توجیه کند.

۲ ـ عوامل خارجی

عوامل خارجی به دو دسته تقسیم می‌شوند:

۱ ـ امریکا و غرب و صهیونیسم (ایران، سوریه، وهمفکرانش) عالمی بیداری اسلامی که در منطقه به وجود آمد نوید شکوفایی کشورهای اسلامی و بهار امت اسلامی را به همراه داشت. که نگرانی عمیقی را در غرب و اسرائیل ایجاد کرد.

با نگاهی به گذشته این کشور ها در می‌یابیم که حکام دیکتاتور در این کشورها بجز فقر و جنگ و تضعیف نقش آن‌ها در منطقه نتیجه‌ای به بار نیاورده‌اند. اما می‌بینیم که حزب عدالت و توسعه توانست یک شبه راه صد ساله را پیموده و کشورش را در زمره ی قدرتهای اقتصادی قرار دهد و جایگاه ویژه ای به ترکیه در منطقه ببخشد و به طور واضح از حق مردم فلسطین دفاع کرد و اسرائیل را به معذرت‌خواهی در مقابل خود وادار نمود. تصور اینکه کشور اسلامی دیگری با این اقتدار در منطقه‌ی مدیترانه و در همسایگی اسرائیل و با گرایشات اسلام میانه به وجود آید برای غرب و صهیونیسم آسان نبود، به‌ویژه در حمله‌ی چند روزه‌ی اسرائیل به غزه، مصر اقتدار خود را نشان داد و قاطعانه از غزه دفاع کرد و تهدید نمود که در صورت ادامه ی تجاوزات، صادرات گاز به اسرائیل را قطع خواهد کرد. گرچه بعضی از تحلیلگران معتقد بودند که این حمله صرفاً جهت ازمودن موضع مصر بود.

همچنان حمایت حکومت مصر از مخالفین دولت بشار اسد، وبستن سفارت آنکشور ایران و بعضی از کشور های دیگر را وادار کرد که بر ضد حکومت مصر ومرسی با سکولرها وغربی ها ـ همصدا شود.

۲ ـ بعض از کشورهای عربی حاشیه ی خلیج عربی، نقش بسیار مؤثری در کودتا داشتند، وسخاوتمندانه به مخالفان مرسی کمک کردند و میلیاردها دلار در این زمینه هزینه نمودند. این کشور ها از گسترش بیداری اسلامی و سرایت آن به سرزمین‌هایشان بسیار هراسان بودند واز لفظ دموکراسی آمیخته به اسلام بیمناکند. بنابراین تمام تلاش خود را در این زمینه انجام دادند تا یک تجربه ی موفق در زمینه‌ی اسلام میانه‌رو و معتدل ادر مصرا عرضه نگردد.

اما در پایان حقایق بسیاری روشن شد و امت اسلامی باید از آن‌ها درس بگیرد که خود نیاز به یک بحث مفصل دارد. بر خلاف زعم و گمان آن ها، طرفداران قانون‌گرایی و مدنیت ننشستند و با عزمی راسخ به خیابان‌ها آمدند و خستگی‌ناپذیر در میادین با زبان روزه تحصن نمودند و شهید دادند، اما مسالمت‌جویی خود را خفظ کردند. افزون بر این امت اسلامی در اقصی نقاط جهان ندای حمایت از مرسی را سردادند و به قول یکی از تحلیلگران، مرسی از ریاست جمهوری مصر تبدیل به اسطوره ای برای امت اسلامی شد. کودتاچیان که با رعب و تهدید آغاز کردند کم‌کم عقب رفته و ندای وحدت و مشارکت سر دادند و اینک در یک بحران واقعی قرار دارند. بسیاری از کسانی که با آنان بودند از موضعگیری پیشین خود برگشته و به نفع طرفداران شرعیت تغییر جهت داده‌اند. مرسی نیز در یک سال دوران ریاست جمهوری خود نمونه‌ی مثال‌زدنی سعه‌ی صدر و تحمل مخالف بود. در رسانه‌های رسمی به او و خانواده‌اش اهانت شد اما کسی را زندانی نکرد. روزنامه‌ای را تعطیل ننمود و شبکه‌ای ماهواره‌ای را نبست.

مشی و منش دموکراتیک مرسی، بار روانی بسیار سنگینی بر مدعیان دروغین ایجاد کرد، که به محض کودتا، ده ها شبکه‌ی اسلامی را بسته و روزنامه های حریت و عدالت را تعطیل نمودند. با این اوصاف ان شاء الله کودتاه راه به جایی نمی‌برد و آینده‌ی درخشانی در انتظار منطقه است. اینده از آن اسلام است.

محمد شفیق «امین»

داسلامي خوځښت ځانګړتیاوې

خوځښت پښتو کلمه ده چې موږ یې دتحریک لپاره استعمالوو، له تحریک او خوځښت سره چې داسلام کلمه یو ځای شي، بیا ترې هغه کاراوعمل اخیستل کیږي چې یوه ډله خلک دمعین نظام په چوکاټ کې داسلام په نفع کار کولو لپاره متې راونغاړي اومبارزه شروع کړي. دوېښتابه کلمه هم همدې ته ورته مانا لري، وېښتابه په اصل کې له خوب څخه را ولاړېدوته استعمالیږي، خو دلته له اسلامي وېښتابه څخه مقصد، له غفلت نه دمسلمانانو ولاړېدوته ویل کیږي.

مسلمانان دخپل دوران په لومړیو کې بیدارو او تقریبا دټولې نړۍ مشري یې کوله، خو وروسته غافله شول او دخپل دین لاره یې پرېښوده او یاخو دمسلمانانو دښمنان په دې وتوانېدل چې هغوی له اصلي مسیرڅخه منحرف کړي اودنړۍ قیادت ورڅخه ونیسي.

اسلامي غورځنګ، اسلامي خوځښت، اسلامي نهضت، هغه کلمات دي چې دهغه حزب او تنظیم لپاره استعمالېدای شي چې هدف یې په ژوندانه کې داسلام پلي کول وي او اسلام دژوند لپاره دیوه مکمل نظام په توګه مني. اسلامي خوځښت ددین داقامې لپاره منظمې هلې ځلې کوي، یو نفردېل نفریه ځنګ کې دروي له هغو څخه ډله جوړوي، استعدادونه په یو او بل کې سره ضرب کوي او داسلام لپاره ورڅخه کاراخلي.

شیخ قرضاوي اسلامي خوځښت داسې تعریفوي: "هغه ولسي، ټولنیز، منظم کاردی چې اسلام بېرته مشرۍ ته راولي اوټول ژوندون دسمون خواته برابروي." ددې خوځښت دروازې دهرهغه چاپرمخ پرانیستې وي چې الله (ج) خپل حاکم او نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دهغه رسول اولارښود وګڼي اودنبي کریم (صلی الله علیه وسلم) راوړل شوي هدایات دخپل ژوند دبنسټیزقانون په توګه ومني. د رنګ، قوم، نسل، سیمې تعصب ته پکې ځای نشته، دوستي اودښمني دالله (ج) درضا لپاره کوي، دلوړوالي اوعزت معیارتقواګڼي.

داسلامي خوځښت ځانګړتیاوې:

اسلامي خوځښت یولړځرګندې ځانګړتیاوې لري چې په وسیله یې له نورسیاسي ډلوسره توپیراوامتیازپه ګوته کیږي. ددغه ځانګړتیاوو په لنډه توګه یادونه کوو:

الهي توب او ربانیت:

داسلامي خوځښت عقاید، قوانین، اخلاق اوافکاردالله عزوجل له تلپاتي دین څخه سرچینه اخلي، دالله (ج) خواته بلنه کوي ترڅوخلک خپل رب وپېژني اوعبادت یې وکړي، همدارازغواړي چې دانسان په ټول ژوند باندې اسلامي مفکوره غالبه او حاکمه شي.

اسلامي خوځښت دنوروسیاسي ډلو پڅلو په شان نه دی چې لدې لارې یې هدف مقام، منصب اوچوکۍ ته رسېدل وي بلکه اسلامي خوځښت یواصولي نهضت دی چې مشران یې له کشرانواوقائد یې له افرادوڅخه دمخه داسلامي شریعت قوانینوته غاړه ږدي.

د ژوند ټولو اړخونو ته شمولیت:

داچې اسلام د ژوند دټولو اړخونو د تنظیم لپاره نازل شوی دی نوله همدې کبله اسلامي خوځښت دژوندپه ټولو چاروکې داصلاح اوسمون لپاره کارکوي او اړینه یې ګڼي چې داسلامي خوځښت غړي دژوند په ټولوچارو یعني سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، عسکري، سپورتي او داسې نوروارخونوکې منظم کاروکړي.

علمیت:

له دغه ځانګړتیاڅخه هدف دادی چې ټولې چارې دعلم پرښت پرمخ رواني شي. علم اوپوهه دانسانانوله لومړیو اړتیاووڅخه شمېرل کیږي. په دې هلکه داخوان المسلین موسس(امام حسن البنا) وایي: لکه څنګه چې ولسونه زوراوقوت ته اړتیا لري په هماغه ډول یوهې ته هم اړتیا لري څکه دهمدې په واسطه زور رهبري کیږي اوپه ښه لاره باندې یې روانوي. علم نوي اختراعات او اکتشافات انسان ته وربه برخه کوي. اسلام علم دفرایضوله جملې څخه یوفرض بولي اوقرآنکریم ددیني اودنیوي دواړو علومو د زدکړې لپاره توصیه کړېده.

داختلاف له ځایونو څخه لېرېوالی:

داسلامي خوځښت غړي پخپل منځ کې او همداراز له نورو اسلامي ډلو ټپلو سره په اسلام کې دفرعي اختلافي مسایلوپه هکله له اختلاف څخه ځان لېرې ساتي ځکه فرعي مسایل باید ددې لامل نشي چې دمسلمانانو ترمنځ اختلاف زیات شي، دفقهي مذهبونوترمنځ چې کوم اختلاف شتون لري دهغه اړوند هرفقهي مذهب ځانګړي دلایل لري، په دې اړه باید بحثونه ددې لامل نشي چې دمسلمانانو ترمنځ عداوتونه زیات شي او یو له بل سره په جګړه شي.

یادونه باید وشي چې داسلامي ډلو د تعدد په حالت کې ددوی ترمنځ هر ډول اختلاف باید د اسلام ددین داصولو په چوکاټ کې دخبروله لارې حل شي.

فکري تجرد: ددې خصوصیت مفهوم دادی چې دخوځښت غړي نه په کاردي چې له نورو ټولو افکارو څخه ځان مجرد کړي او یوازې دهمدې فکرلپاره کاروکړي ځکه یوازې دفکري تجرد لرونکي کسان کولای شي چې خپلې موخې ترلاسه کړي، هغه اشخاص چې نن دیوه فکر لارویان او بله ورځ دبل فکرلارویان کیږي، تجرد نه لري او نشي کولای چې خپل اهداف ترلاسه کړي.

اعتدال او انصاف:

اسلامي خوځښت داسلام پرېنسټ داعتدال او انصاف لرونکی دی، داسلام دین دعدالت دین دی نوداسلامي خوځښت ټول حرکات باید دعدالت پرښستونو پرمخ ولاړشي.

خپل منځي جوړښت اوګام پرګام مخکې تلل:

اسلامي خوځښت باید له هرڅه مخکې هڅه وکړي چې دخپل داخلي جوړښت لپاره کاروکړي او د خپلو کارونو په کړنه کې دګام پر ګام (تدرج) له اصل څخه ګټه واخلي، ځکه په تدریجي توګه وړاندې تلل، هدف ته رسېدل تضمینوي.

عمل ته په تبلیغاتو باندې ترجیح ورکول:

دغه خاصیت دا مانا لري چې تبلیغات باید دکارپه پرتله ضعیف وي، ځکه اصل هدف کاروي نه تبلیغات، دضرورت په اندازه اوله واقعیت سره مساوي تبلیغات جوازلري، له کارڅخه زیات تبلیغات کول له یوه اړخه دروغ او له بل اړخه دخلکوپه ستر ګوکې د خاورې اچولومانا لري او دا دواړه داسلام له نظره ناروا دي.

په ځوانانو ډېر کار کول:

اسلامي خوځښت دخپلوپروګرامونو زیاته برخه باید ځوانانو ته‌ورکړي ځکه ځوانان له یوې خوا دټولنې دملا دتیرحیثیت لري او له بلې خوا دځوان قشرروزنه په راتلونکو نسلونو کې دفکري بقا تضمین کوي. همداراز ځوانان کولای شي چې دخپلې ځوانۍ انرژۍ پرمټ خوراښه اصلاحات او بدلونونه راولي.

افغان سیاسیون سوله په ګدایي غواړي

جمال رحمان

کابل ته د پاکستان د ملي امنیت د سلاکار سرتاج عزیز راتګ یو ځل بیا د تودو بحثونو باعث شو. څوک خوشبینه او څوک بدبینه ښکاري. واقعیت دادې چې د دولتونو په مناسباتو کې یوازې د دولت او اقتصاد غښتلیا نقش لري، نه اخلاقي، دیني او بشري ارزښتونه.

موږ باید د پاکستان نه ترهغه تمه ونه کړو، ترڅو مو یو نسبي غښتلې دولت نه وي جوړ کړی، د سیاسي قوتونو ترمنځ د ملي ګټو پرسر تفاهم نه وي شوی، خپل اقتصاد، عامه ملکیت، خپلو خلکو او قوانینو ته مو د درناوی فرهنګ نه وي رامنځ ته کړی. ددغه نیمګړتیاوو پړه نه یوازې د افغان حکومت په غاړه ده، بلکې د افغانستان ټول سیاسیون او تعلیم یافته قشر هم خپل مسؤلیت نه دی په ځای کړی.

پاکستان یوازې خپلې تعریف شوی ګټې تعقیبوي او په دې لار کې د نواز شریف، ګیلاني، مشرف، زرداري او همدغه شان د ملا او کمونست ترمنځ کوم فرق نشته. پاکستان زموږ نه د نسبي امن په مقابل کې په نیم افغانستان غیرمستقیم تسلط، د افغانستان معادنو ته بې رقابته لاس رسي، د افغانستان په جنوب کې د هند د نفوذ بیخي د منځه وړل او په شمال کې ددغه نفوذ محد...ودول، افغانستان د خپلو اوبو نه بې برخې کول، د دیورند د کرښې منل او د کرښې د دواړو خواو پښتنو ترمنځ داړیکو د منځه وړل غواړي.

د پاکستان غوښتې په عمل کې افغانستان د سیاسي او اقتصادي استقلال نه محروموي. پاکستان اوس کوښښ کوي چې شمالي ټلوالې ته د طالبانو سره د ګډ حکومت د جوړولو په وعدو سره افغان حکومت نور هم کمزورې کړي. خو که دغه شان یو حکومت رامنځ ته هم شي بیا به د هغې په ضد د یو بل حرکت ملاتړ وکړي ترڅو افغانان د فکر او عمل قوت او وخت پیدا نه کړي. دغه تجربه افغانانو په ۱۹۹۰ لسیزه کې هم وکړه او اوس یې هم قرباني دي.

بهتره به دا وی چې د پاکستان او یا هم بل هېواد نه د تمې په ځای لومړی خپل مسؤلیت ترسره کړو. د قانون یوشان تطبیق، د عامه ملکیت ساتنه، د دسیسو او توطیو نه ډډه، د سلګونو ټولنو، ډلګیو او په قومي بنیاد جوړشوي ګوندونو په ځای د څو محدودو ملي ګوندونو جوړول، خپل تولید ته پاملرنه هغه څه دي چې موږ د یوه ملي قوي دولت خاوندان کولی شي. که دانوی نو سوله اوبیا ژوند په ګدایي نه ترلاسه کیږي.

دافغان سولې او پخلاینې...

په غونډه کې یو شمېر افغان او بهرنیو کارپوهانو، سیاستوالو، د مدني ټولنې غړو او خبریالانو ګډون کړی و.

د امریکا سفیر جېمز کننګهم چې د افغانستان او امریکا تر منځ اړیکو باندې یې خبرې وکړې او د ګډونوالو پوښتنو ته یې ځوابونه وویل.

ښاغلي کننګهم وویل، چې د سولې او پخلاینې د خبرو په بهیر کې طالبان څرګند دریځ او ژمنتیا نه لري، چې له امله یې په افغانستان کې د لېرد روان بهیر له دغې ډلې سره پر خبرو تکیه نشي کولای. نوموړي وویل، چې د طالبانو د همدغه ناڅرګند دریځ له کبله د سولې په بهیر کې راتلونکې پرمختګ مالوم نه دی:

"امریکا به له طالبانو سره د افغانستان پر راتلونکې خبرې ونه کړي. دا ډول خبرې د افغانانو کار دی، چې و یې کړي. دغه خبرې باید د سولې د عالي شورا له لارې د افغان ولس د استازو او طالبانو تر منځ تر سره شي."

"دا چې د سولې او پخلاینې په ډګر کې به کوم پرمختګ وشي که نه، یوه نالومه خبره ده او تر یوه وخته به همداسې نالومه پاتې شي. زه فکر نه کوم، چې دا به یوه ښه خبره وي، چې یو بې پایلې سیاسي بهیر روان وسائل شي.

که کومه نتیجه یې درلودای او یا یې له لارې داسې یو جوړجاړی راغلی وای، چې په ټاکنو کې یې مرسته کړې وای، نو دا به یوه ښه خبره وای. خو زه فکر نه کوم، چې د افغانستان د لېرد سیاسي یا نورې برخې دې د داسې یوې ډلې پر ارادې متکې شي، چې ژمنتیا یې مالومه نه ده."

ښاغلي کننګهم وویل، چې د قطر په پلازمېنې دوحه کې د طالبانو د دفتر د پرانېستلو موخه د افغان دولت او طالبانو تر منځ د خبرو لپاره د یوه درګ مالومول وو، خو امریکا د دغه دفتر د پرانېستلو پر بې اندېښمنه ده. د طالبانو پر دفتر له پرانېستې سره سم د اسلامي امارت بیرغ او لوحه لګول شوي وو، چې د امریکا سفیر دا کار د ټولو افغانانو لپاره د نه منلو وړ وباله.

ښاغلي کننګهم د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل، چې امریکا د قطر د دفتر یا له طالبانو سره د خبرو په تړاو کومه پټه تګلاره نه لري. ده وویل، چې دغه هېواد به له طالبانو سره د افغانستان د راتلونکې په تړاو خبرې ونه کړي، بلکې دا چاره باید پخپله د افغان حکومت او طالبانو تر منځ تر سره شي:

"امریکا به له طالبانو سره د افغانستان پر راتلونکې خبرې ونه کړي. دا ډول خبرې د افغانانو کار دی، چې و یې کړي. دغه خبرې باید د سولې د عالي شورا له لارې د افغان ولس د استازو او طالبانو تر منځ تر سره شي. او موږ هیله لرو، چې د دې خبرو اترو د تر سره کېدو شونتیا به پیدا شي." نوموړي همداراز وویل، چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د صفر کولو تګلاره د دواړو هېوادونو په ګټه نه ده او هیله یې څرګنده کړه، چې د امنیتي تړون په لاسلیکېدو به په افغانستان کې د یو شمېر امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو لپاره زمینه برابره شي.

د امریکا سفیر راتلونکې ټاکنې د افغانستان لپاره برخلیک ټاکونکې وبللې او زیاته یې کړه، چې دغه هېواد به په دې برخه کې تخنیکي او مالي مرستې وکړي. نوموړي په ټینګار وویل، چې امریکا به په دغو ټاکنو کې د هیڅ نوماند یا ډلې ملاتړ ونه کړي، خو له ټولو افغان سیاستوالو یې وغوښتل چې په دغه بهیر کې پراخه ونډه واخلي.

د امریکا سفیر همدراز وویل، چې امریکا به د امنیتي تړون په رڼا کې له افغان ځواکونو سره خپلې مرستې روانې وساتي. نوموړي وویل، چې امریکا وار له مخه د افغان هوایي ځواک په رغولو کې مرستې پیل کړې او دغه مرستې به روانې پاتې شي.

سرنوشت توافقنامه امنیتی...

توافقنامه، امنیتی دو جانبه، بین حالا و ماه اکتوبر واضح تر بدانم."

پس از آن که رییس جمهور کرزی مذاکرات بالای توافقنامه، امنیتی میان کابل و واشنگتن را به حالت تعلیق در آورد، مارتین دیمپسی برجسته ترین مقام امریکاییست که با او دیدار می کند.

پس ازین دیدار دفتر رییس جمهور افغانستان با نشر اعلامیه، به نقل از حامد کرزی گفت، افغان ها آماده اند تا با ایالات متحده، امریکا پیمان امنیتی ببندند، به شرط آن که این پیمان باعث به وجود آمدن ثبات، تقویت نیرو های امنیتی افغان و یک افغانستان مستقل و متحد شود.

پس از آن که در اعتراض به شیوه، گشایش دفتر طالبان در قطر، حامد کرزی مذاکره بالای پیمان امنیتی با واشنگتن را به حالت تعلیق در آورد، تنش در روابط میان افغانستان و ایالات متحده اوج گرفت.

در اوج این تنش ها، مقامات امریکایی گفتند، رییس جمهور بارک اوباما گزینه، صفر ساختن تعداد سربازان این کشور در افغانستان را بررسی می کند.

اما رییس کمیته، لوی درستیزان امریکا مارتین دیمپسی می گوید، با خروج همه، سربازان از افغانستان مخالف است و در باره، "گزینه، صفر" با او مشوره نشده است: "از من کسی نخواسته تا گزینه، صفر را آماده بسازم. گزینه، صفر را پیشنهاد نمی کنم. بنا، کدام گزینه، صفر وجود ندارد. اما امکان دارد که نتیجه گزینه، صفر باشد. زیرا ما تنها در صورتی اینجا مانده میتوانیم که ازما خواسته شود."

دغه رنګ مو نامې غوره احمد کړنوالي پاسته چې پر خلکو ګواهان اوسو

شهادت

ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۴۰۳۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب نظر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

لوی خارنوالی سید انور سادات ...

اعضای شورای ملی قرار گرفته؛ اما سادات گفته است: "هدف من توهین به کدام قوم نبود، حرف هایم متوجه حکومت بود و اگر کسانی فکر می کنند که این حرف ها را در مقابل آنها گفته ام، پس من معذرت میخواهم."

شماری از مردم با راه اندازی تظاهرات، خواسته بودند که سادات را تحت تعقیب عدلی قرار دهند و از ولسی جرگه اخراج شود.

بصیر عزیزی سخنگوی لوی خارنوالی، به آژانس خبری پژواک گفت که سخنان انور سادات، ضد منافع ملی بوده و به قوم پشتون توهین کرده است.

وی افزود که سادات به همین دلیل، از سوی لوی خارنوالی ممنوع الخروج اعلام شده است.

به گفتهٔ وی، لوی خارنوالی با ارسال مکتوبی عنوانی ولسی جرگه، خواهان حاضر شدن سادات برای تحقیق به این اداره گردیده است.

وی گفته های سادات را خلاف قانون اساسی دانسته گفت: شخصی که بر ضد منافع ملی حرف بزند و منافع ملی را به خطر بیندازد، مورد پیگرد قانونی قرار می گیرد.

در ماده ۱۰۱ قانون اساسی آمده است که هیچ عضو شورای ملی، به علت رای یا نظریه ای که درهنگام اجرای وظیفه ابراز می دارد، مورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرد.

اما در ماده ۱۰۲ این قانون تذکر داده شده است: "هرگاه عضو شورای ملی به جرمی متهم شود، مامور مسوول از موضوع به مجلسی که متهم عضو آن است اطلاع می دهد و متهم، تحت تعقیب عدلی قرار گرفته می تواند."

همچنان دراین ماده آمده است که در مورد جرم مشهود، مامور مسوول می تواند متهم را بدون اجازه مجلسی که او عضو آن می باشد، تحت تعقیب عدلی قرار دهد و گرفتار نماید.

به اساس این مادهٔ قانون، در هردو حالت، هرگاه تعقیب عدلی قانوناً توقیف را ایجاب کند، مامور مسوول مکلف است موضوع را بلا فاصله به اطلاع مجلس مربوطه برساند و تصویب آنرا حاصل نماید.

مروری بر کارکرد چهارنیم ماهه ...

استیضاحیه، استجوابیه و استماعیه را برگزار کرده اند:

"پنج جلسه استیضاحیه برگزار شده در ارتباط به وزرا و هفت جلسه استجوابیه، دو نشست استعماعیه و جلسات سری و علنی هم در بین موجود بود.

در مجموع به تعداد پازده قانون و سه موافقتنامه بین المللی را ولسی جرگه به تصویب رسانده است."

این دوره، کاری ولسی جرگه با کشمش ها، اعتراضات و تقابل میان این جرگه و قوه اجراییه هم به همراه بود.

داکتر حضرت عمر زاخیلوال وزیر مالیه چندی پیش شش تن از اعضای این مجلس، ظاهر قدیر، محمد نعیم لالی حمیدزی، سمیع صمیم، محمود خان سلیمان خیل، عارف رحمانی و عبدالعظیم محسنی را به انجام کار های غیر قانونی و سوء استفاده از نام و کالت متهم کرد.

به همین ترتیب قوماندانی امنیه کابل یکی از وکلای دیگر را به نام الله گل مجاهد در جرایم مختلف دخیل دانست.

ولسی جرگه یک روز قبل از آغاز رخصتی تابستانی شورای ملی وزیر داخله را استیضاح و سلب صلاحیت نمود.

اما جنرال مجتبی پتنگ این تصمیم ولسی جرگه را توطئه در برابر خود خواند و از خلاف ورزی های شماری از وکلا پرده برداشت.

در همین حال بعضی از اعضای سابق ولسی جرگه می گویند که نمایندگان مردم در این جرگه طبق توقعات مردم کار نکرده و اکثراً منافع شخصی شان را ترجیح داده اند.

شریفه زرمتی وردک یکی از وکلای پیشین در این مورد می گوید:

"آنها کمی و کاستی در تصویب بعضی قوانین داشتند و اکثراً وقتی که وزیران را استیضاح کرده اند به خاطر مسایل مربوط به منافع شخصی خود شان بوده.

این چیز های نیست که از آن چشم پوشی نماییم، اکثر اوقات کرسی های ولسی جرگه خالی می باشد و وکیل صاحبان محترم در بیرون افغانستان در کار و بار خود مصروف استند."

هیات اداری ولسی جرگه افغانستان تایید می کند که این جرگه در چهارنیم ماه اخیر کار های کافی را در حیطه صلاحیت اش انجام نداده و یکی از علت های آن را موجودیت فضای تقابل بین قوه های مقننه و اجراییه می داند.

اعضای ولسی جرگه افغانستان مطابق قانون در یک سال دوبار به رخصتی می روند.

رخصتی تابستانی این شورا از اول ماه اسد آغاز و تا پانزده هم ماه سنبله ادامه می یابد.

بر مبنای قانون، سناتوران و وکلا مکلف اند که در ایام تعطیلات با موکلین شان به هدف آگاهی از مشکلات آنها دیدار کنند.

اما مردم انتقاد می کنند که بسیاری از اعضای شورای ملی این مسوولیت خود را به درستی انجام نمی دهند.

د ډرون الوتکو ۹۸ سلنه قربانیان ...

د دغه کاریوه د اټکل له مخې، په قبایلي سیمو کې تر اوس له ۳۰۰۰ نه تر ۳۵۰۰ تنه وژل شوي، چې اکثریت یې ملکي خلک دي.

اوسمهال په جرمني کې هم د ډرون الوتکو د کارولو پر سر باندې ناندرې رامنځته شوي، ځکه د افریقا او اسیا سیمو نه، چې کوم مالومات راغونډیږي، لومړی په جرمني کې تحلیلیږي او بیا امریکا ته ورکول کیږي او هغوی یې د بریدونو پر بیکړې تر سره کوي.

یوه له جنجاله ډکه موضوع د یوه تن جرمني "بنیامین" د وژل کېدو مساله هم ده، چې په میرعلي کې د ډرون الوتکو په برید کې یې ژوند له لاسه ورکړی. نوموړی له خپل ورور ورنداري او ماشوم وراره سره، هلته تر برید لاندې راغلل، چې بنیامین ووژل شو او ورور یې ټپي شو. تر برید وروسته د بنیامین ورور له خپلې میرمنې سره جرمني ته ستانه شول، چې اوس یې محاکمه روانه ده.

تر اوسه داسې کوم شواهد نه دي تر لاسه شوي، چې دغه کسانو دې د ترهګرو سره ګډ فعالیتونه تر سره کړي وي او یا دې په تبلیغ کې برخه اخیستې وي او پر دې باندې څېړنه روانه ده، چې د بنیامین په وژل کېدو کې د جرمني د حکومت څومره لاس و.

کارپوهان وایي، چې د دغه بریدونو یوه لویه حقوقي ستونزه دا ده، چې تر څو د یو مجرم محاکمه نه وي تر سره شوې، تر هغه د وژلو پریکړه ناسمه ده او په دې توګه د ترهګرۍ په پلمه دغه بریدونه جواز نلري.

په قبایلي سیمو کې د شاوخوا ۱۳۰ هغو کورنیو، چې ماشومان او د کورنۍ غړي یې په دغه بریدونو کې وژل شوي، د یو تن وکیل میرزا شهزاد په واسطه، د امریکا پر ضد نړیوالې محکمې ته عریضه وړاندې کړې خو دا څرګنده نه ده، چې څه ډول پایله به ولري.

لوګریان د طالبانو او دولت ...

که څه هم لوګر پایتخت کابل ته نږدې پروت ولایت دی خو په دې وروستیو کې د وسله والو طالبانو فعالیتونه په کې تربل هر وخت زیات شوي دي. د دې ولایت اوسیدونکي وایي چې؛ امنیتي ستونزې په بېلابېلو سیمو او ولسوالیو کې زیاتې شوي او ان نشي کولای چې خپل ورځني کارونه ترسره کړي.

د لوګر څو تنو اوسیدونکو د سې شنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل چې؛ پر وسله والو مخالفانو سربېره سږ کال د افغان امنیتي ځواکونو له خوا هم پر دوي فشار زیات شوي دي؛

"زما نوم نورالرحمان دی او د لوګر اوسیدونکی یم، د لوګر امنیتي وضع ډېره خرابه ده او تر ډېره عام خلک په کې ځوریږي هم د دولت له خوا نه او هم د طالبانو له خوا نه.

کله چې طالبان د ملي اردو پرپوستو یو ډز وکړي نو هغوی له خپلو پوستو پر کلیو هاوانونه ولي چې په کې ښځو،ماشومانو او نورو ملکي وګړو ته زیان رسیږي.

له لوګر څخه ډېرو خلکو کابل ته کډې وکړې.

زه ضیاالرحمان یم له لوګرڅخه،دلته وضعیت ډېرخرابه دی،هره ورځ جنګونه وي،ډېرو خلکو له لوګرنه کابل ته کډې بار کړي.

هم طالبانو خلکو ته ستونزې جوړې کړي او هم ملي اردو او نورو امنیتي ځواکون.

له ماذدیګرنه وروسته دلته څوک ګرځیدی نشي".

دا شکایتونه په داسې حال کې مطرح کیږي چې؛ د لوګرد امنیتي وضعې په اړه حتی په تیربوه کال کې درې ځلې د افغانستان د ملي امنیت په شورا کې هم بحثونه شوي.

نږدې پخوا ډېر کله د لوګر له ځرخ،برکي برک اود خروار ازرې په څېر د لرو پرتو ولسوالیو څخه د ناامنیو راپورونه ورکول کېدل خو په دې وروستیو کې په مرکز پل علم او د محمدآغې په ولسوالي کې د پېښو د ډېرېدو راپورونه خپریږي.

څه موده مخکې د لوګر سیمه ایزو چارواکو تایید کړه چې د ازرې ولسوالۍ لاره وسله والو مخالفانو بنده کړې او په نوموړې ولسوالۍ کې خلکو شکایتونه وکړل چې د خوراکي موادواودرملو له سخت کموالي سره مخامخ دي.

د لوګردولایتي شورا رییس ډاکټرعبدالولي وکیل سربېره پردې چې په دې ولایت کې امنیتي ستونزې او د خلکو شکایتونه تاییدوي وایي چې دلوګرناامنۍ پر کابل هم بدې اغیزې کړي:

"سږ کال د ملي اردو مرکزونه کلیو ته هم غځیدلي اوهلته چې کله پرملي اردو د طالبانو لخوا یو ډزوشي هغوی ګس ډزه پرې کوي.

د همدغو ډزو په تبادله کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوړي او دا ډېره د اندېښنې خبره ده.

د مافیایي کړیو د دسیسو ...

همدا راز ۵۱ نمائنچې ورسره دي چې په هیڅ توګه ددې جواز نه شته چې د کورنیو چارو یا دفاع وزارت پوځي وسله دې له یوه پارلماني او ملکي کس سره وي.

زموږ وکیلانو د کمپنیو، سوداګرو نورو او نورو په نومونو د ۳۰۱۲ میله وسلې امر اخستي دي، چي دا چاره د هیواد په ټولو ولایتونو کې د نا امنۍ او بې ثباتۍ لامل شوې ده."

زموږ همکار مصطفی سالک وایي، باغلي پتنګ وویل چې ګواکې دښه یې توکیو مافیا او یو شمیر امنیتي کمپنیو دده په استیضاح او بې واکه کولو کې لاس درلود.

هغه وویل نه د پیسو په مټ وزیر شوی وا او نه یې غوښتل چې د پیسو په مټ خپل واک وساتي.

نوموړي د خپلې استیضاح په برخه کې له افغان ولسمشر حامد کرزي نه د عدالت تېنګولو غوښتنه وکړه.

لږ وروسته ولسمشر حامد کرزي هم وویل چې د استیضاح لاملونه باید موجه وي، د ارګ د خبرپاڼې له مخه ولسمشر ښاغلي پتنګ ببرته د کورنیو چارو وزارت د سرپرست په توګه ټاکلی او د هغه دې واکه کولو موضوع یې د ارزولو په موخه د هیواد سترې محکمې ته سپارلې ده.

مجتبی پتنګ د ولسي جرګې د ۱۳۶ مخالفو او ۶۰ موافقو رایو په اخستلو سره بې واکه کړل شو.

د هغه د استیضاح لوی لامل دا ګڼل کېده چې ګواکې د ولسي جرګې د پرېکړو درناوی نه کوي.

نوموړی په دې وروستیو کې د ولسي جرګې هغې پوښتنې غونډې ته نه وو ورغلی چې د لویو لارو د ناامنۍ په اړه په پام کې نیول شوې وه.

رییس جمهور به فیصله این ...

این تقاضا پس از آن صورت می گیرد که به روز دوشنبه ولسی جرگه افغانستان جنرال مجتبی پتنگ را از سمت وزیر داخله سلب صلاحیت کرد. حاضر نشدن وزیر داخله در جلسات استجوابیه قبلی ولسی جرگه، افزایش نا امنی ها در شاهراه های کشور و موجودیت فساد اداری در ادارت مربوط وزارت داخله دلایل اصلی استیضاح وی خوانده شده است.

پس از این فیصله، ریاست جمهوری افغانستان با انتشار خبرنامه، مجتبی پتنگ را به حیث سرپرست وزارت داخله اعلام و فیصله در مورد سلب صلاحیت وی را به ستره محکمه کشور راجع ساخت.

ریاست جمهوری افغانستان گفته است که پس از دریافت جواب از سوی ستره محکمه رییس جمهور کرزی فیصله اش در این مورد را اعلام خواهد کرد.

در این حال شماری از آگاهان امور می گویند، با آنکه استیضاح وزرا و سلب صلاحیت آنان از لحاظ قانون حق وکلا بوده اما مشروط بر دلایل موجه می باشد.

کبیر رنجبر یکی از این آگاهان در صحبت با رادیو آزادی گفت که تصمیم رییس جمهور کرزی در این خصوص مشروعیت حقوقی دارد و اجرای آن هیچگونه مشکل قانونی را به میان نخواهد آورد: « تصمیم قانونی است، رییس جمهور حق دارد وقتی درک کند که دلایل برای عدم اعتماد موجه نبوده آنرا راجع بسازد به ستره محکمه و ستره محکمه به دلایل مقنع باید ثابت بسازد که دلایل برای استیضاح وزیر موجه نبوده و آنوقت است که رای عدم اعتماد رای نامشروع و غیر قانونی اعلان می شود، در آنوقت ولسی جرگه نیز حق گله ندارد. »

پس از فیصله ولسی جرگه مبنی بر سلب صلاحیت وزیر داخله کشور، مجتبی پتنگ در یک نشست خبری حضور یافت و این فیصله را غیر قانونی خواند.

وی ادعا کرد که تصمیم استیضاح اش توسط یک تعداد غاصبین زمین، جاسوسان پاکستان و مسوولان شرکت های خصوصی امنیتی که لغو شده اند گرفته شده است.

پیش از این هم شماری از وزرای کابینه، و مقام های قوه قضایه از سوی ولسی جرگه، افغانستان سلب اعتماد شده اند اما بسیاری آنان تا مدت زیادی به عنوان سرپرست در پست های شان باقی مانده اند.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د مجتبي پتنګ په اړه پرېکړه دې محکمه وکړي (کرزی)

نیویارک ټایمز ورځپاڼه وایي، د افغانستان ولسي جرګې د دوشنبې په ورځ د کورنیو چارو وزیر مجتبي پتنګ ته د عدم اعتماد رایه ورکړه خو هغه له دندې لرې کړي، خو جمهور رییس حامد کرزي دا پرېکړه رد کړه او ویې ویل چې؛ دا فیصله چې د ولسي جرګې دا اقدام قانوني دی که نه دی باید په محکمه کې وشي.

نیویارک ټایمز لیکي، د ولسي جرګې د غړو تر ټولو جدي اندېښنه د وسله والو طالبانو د حملو پراختیا وه. د ولسي جرګې د پرېکړې تر اعلان مخکې پتنګ وویل چې؛ په تېرو څلورو میاشتو کې څه باندې دوه زره او اوه سوه پولیس وژل شوي دي. دا د وسله والو طالبانو د پسرلنیو عملیاتو له وخت سره سمون خوري.

پتنګ همدا راز وویل چې په ۲۰۰۲ (میلادي) کال کې د ملګرو ملتونو د سازمان له خوا د غیرمسولو وسله والو ډلو او افرادو د بې وسلو کولو د پروګرام سره سره په افغانستان کې دوه لکه اویا زره میله وسلې له غیر مسولو کسانو سره دي.

وال سټریټ ژورنال هم د کورنیو چارو د وزیر د بې صلاحیته کولو لپاره دولسي جرګې د دوشنبې د ورځې پر غونډه تبصره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي: د ولسي جرګې دا حرکت به د افغانستان دحکومت لپاره د تازه بې ثباتۍ سبب شي. جنرال مجتبی پتنګ بیایې تر هغو د کورنیو چارو د وزارت د سرپرست په توګه کار وکړي چې جمهور رییس کرزی د دې وزارت لپاره بل نفر پیدا کوي.

د قانون له مخې باید جمهور رییس یو بل کاندید ولسي جرګې ته ور معرفي کړي.

خو د وال سټریټ ژورنال په وینا، جمهور رییس حامد کرزي په څو مواردو کې سرپرست وزیران تر قانوني معیاد چې یوه میاشت ده، زیات وخت ساتلي دي.

ورځپاڼه لیکي: د جنرال مجتبی پتنګ د لرې کولو پرېکړه د افغانستان لپاره په یوه ډېر نازک وخت کې شوې ده. به را روان پسرلي کې به په دې هیواد کې د ولسمشرۍ ټاکنې کېږي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت به شدت د انتخاباتو لپاره د امنیت په ټینګولو لګیادی تر څو خلک وکولای شي چې د رایو مرکزونو ته ولاړ شي.

بله ورځپاڼه کرسشن ساینس مانیټور په یوه ډېره متفاوته مسله مقاله لري او هغه د افغانو ښځو شاعري ده.

ورځپاڼه لیکي: له ډېرو جنجالونو سره هم د افغانو میرمنو په منځ کې د شاعرۍ ګلان غوړېدلي دي.

د دوي د را غونډیو یو عمده ځای د افغان میرمنو ادبي بهیر په نوم ټولنه ده چې تر سلو زیاتې لیکوالې ښځې یې غړې دي.

د میرمنو بهیر اصلي غونډې په کابل کې وي خو په خوست، کندهار، فراه، پکتیا، میدان وردګ او داسې نورو ولایتونو کې چې امنیت یې ډېر ښه نه دی پټ فعالیت کوي.

کرسشن ساینس مانیټور د افغان میرمنو د لیکوالې د نورو پروژو او پروګرامونو یادونه کړې او په پای کې یې لیکلي: له دې پرمختګونو سره هم په افغانستان کې شاعري د ښځو لپاره خطرناکه ده.

کرسشن ساینس مانیټور وایي په تیر یوه کال کې زیاتې ښځې شاعرانې د خپلو کورنیو نارینه وو ووژلې.

ورځپاڼه د بېلګې په ډول د میرمنو ادبي بهیر د یوې ځوانې غړې راحله مسکا نوم اخیستی دی.

ورځپاڼه لیکي چې راحلې مسکا به دې خاطر چې ورونو یې د هغې شعرونه لیدلي وو او پر هغې یې حمله کړې وه، خان ته اور واچاوه اومړه شوه.